دبايرن مېشتو افغانانوکولتوري ټولنـــــه

۲۵-۰۶-۱۰

# په ټول افغان کې افغان دښمنو عناصرو ځاله کړې ده

ګران کامه وال صاحب!

سلامونه مي ومنئ هيله ده چي جوړ اوسئ

قدرمنه!

په ډېر ژور خپګان سره تاسو ته شکايت کوم چي ستاسو له همکارانو څخه کوم يو دومره جعل او جفا کړې ده چي زموږ افغانانو ترمينځ به دسترو شخړو سبب وګرزي مثلأ:

زموږ وروستی خبر تيا يو ډول وه خو ستاسو همکار ګوتي پکي وهلي او دومره لوی جعل يې پکي کړی چي په هيڅ اسلامي اوپښتني معاشره کي دزغملو وړ نه دی موږ صرف ليکلي وو چي درباب او کباب بند اوبس شوی خو ستاسومکار او جفاکار همکار پسي زياته کړې ده چي د رباب ، کباب او شرابو بند او بس هم شوی دی ، لنډه دا چي مو ږ ته دا کس را پـه ګوته کړئ کـه ددې جعل لـه وجي رسمي بخښنه ونـه غواړي موږ بـه حقوقي لارې چارې وسنجوو.

په درناوي

زموږ خبرتيا په لاندې پتو زموږ نورو ښتينو افغانانو په ښتيني بڼه خپره کړې ده :

talafghan.com/messegesandreports/dabayrenmeshtoafghanotolanekhabartya=19062010.html

http://www.afghan-german.de/af/Veranst/index.htm

http://www.afgazad.com/Ejtemaei/062010-Besmel-Pah-Germani-Ki.pdf

http://www.salgay.com/Elan/Da%20Bayrene%20001.html

http://larawbar.com/peace/506.htm

زموږ بله جدي غوښتنه دا ده چې سر له اوسه ستاسودوييپاني چلوونکي همکاران بايد خپل نوم او پته وليکي تر څو کوم بل مکار دا ډول بې شرمانه لوبه ونه کړي .

په جرمني کې دبايرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې خبرتيا

دجرمنـي پـه مونشن ښـارکي دکولتـوري ټولنولوی مرکز ( Eine Welt Haus) خپلـه لسمه کليزه لمـانځي زموږ کولتوري ټولنه له افغاني کولتوري ټولنو څخه يوازينۍ کولتوري ټولنه ده چې دنوموړي کولتـوري لـوی مرکز دغړيتوب وياړ لري ځکه خودې لمانځني ته وربلل شوي يو، لـه همدې کبلـه موږ دخپلـي کولتـوري ټولنې ټولو په تېره بياهغودرنوغړو تـه خبر او بلنـه ورکووکـوم چـې پـه کـار اوغريبـي پسـي د بـايرن لـه آيالت څخـه نوروليري پرتو
سيمولکه فرانکفورت، همبورګ او نوروځايونو ته تللي دي .
ديـادې لـسيزې لمانځنـه پـه ۲۳ـ۰۶ـ۲۰۱۰زېږديزکـال ترسـره کيـږي پـه دې ورځ لـه ټولوبهرنيـو کولتـوري ټولنوڅخه صرف محدود شمېر کسان رابلل شوي خو دکولتـوري ټولنـو د لوی مرکز ( Eine Welt Haus) دلسمې کليزې جشني مېله د۲۰۱۰ زېږديز کال دجولای په دريمه نېټه ترسره کيږي موږ خپل ګڼ شمېر ملګري دجولای دريمې نېټې ته رابولو دامېله به له تالار څخه بهر پـه آزاده فضـأ کـي وي د ربـاب او کبـاب بند او بس هم شوی دی ځکه له خپلو ټولو ملګرو څخـه هيلـه کوو چـې مخکـي لـه مخکـي موږ تـه لـه خپل راتـګ څخه داډ راکړي ترڅو دارتيا په اندازه خوراکي توکي ورته برابر شي .

دتيليفون شمېره : ۰۱۷۳۴۷۰۸۳۸۸
ايميل پته : a.c.besmel@hotmail.de

يادونـــــــــــــــــــه :

دجشني مېلې نېټه دجولای اومه نه بلکې دجولای دريمه ده خوپه ځينوويبپاڼوکي دانېټه لا نه ده اصلاح شوی .

دبايرن مېشتو افغانانوکولتوري ټولنـــــه